دافغانستان اسلامي امارت

د امارتي شرکتونو لوي رياست

د افغان ټيلي کام مخابراتي شرکت

سلام مخابراتي شبکه

# د ارزاقو امارتي شرکت سره د افغان ټيلی کام د سلام شبکې دګروپي سيمکارتونود توزيـع هوکړه ليک

**سریزه:**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد الله رب العالمین و الصلوة والسلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمین:**

د سلام مخابراتي شبکه چې د افغان ټيلي کام تر چتر لاندې د افغانستان خلکو ته مخابراتي خوندي، ارزانه، د لوړ کيفيت او راڼه خدمتونه وړاندې کوي.
د سلام مخابراتي شبکه وياړي چې د ارزاقو امارتي شرکت کارکوونکو ته له يادي شبکې څخه ګروپي يا د (سی یو جي) سيمکارتونه وړاندې کوي د سلام مخابراتي شبکه به خپل کوښښ وکړي تر څو د یاد محترم د ارزاقو امارتي شرکت کارکوونکو ته پر وخت، غوره مخابراتي خدمتونه وړاندې کړي.
د افغان ټيلی کام د سلام مخابراتي شبکه به ددې لارې کوښښ وکړي ترڅود یاد محترم شرکت سره د ګروپي سيمکارتونو په واسطه غوره اړيکي او نورې آسانچارې رامنځ ته کړي چې ددې د پيل لپاره همدا هوکړه لیک به غوره موقع وي.

**لومړي ماده:**

**د هوکړه لیک د دواړو طرفونو پيژندنه:**

## الف: د ارزاقو امارتي شرکت:

ارزاقو امارتي شرکت د هیواد په کچه د خوراکي توکو د برابرو لو او لیږد خدمتونه وړاندې کوي او د امارتي شرکتونو لوی ریاست تر چتر لاندې فعالیت کوي. چې دامهال شرکت له څلورو کليدي وزارتونو ( لوړو زده کرو، کار او تولنیزو چارو، پوهنې او عامې روغتيا) سره د خوراکي توکو د برابرولو او اکمالولو تړونونه لري. همدا مهال شرکت جواز در تر لاسه کولو لپاره هڅې رواني او تر کار لاندې دی.

**ب: د افغان ټيلي کام (د سلام مخابراتي شبکه)**

د سلام مخابراتي شبکه چې په هیواد کې د جی اس ام مخابراتي خدمتونو په وړاندې کولو کې بوخته ده او د افغان ټيلی کام تر چتر لاندې فعالیت کوي افغان ټيلي کام د آیسا له محترمي اداري څخه D-22427 ګڼه ثبت سوداګريز جواز تر لاسه کړی دئ.

**دوهمه ماده:**

**اصطلاح ګاني:**

**پدې هوکړه لیک کې لاندې اصلاح ګاني پدې موخه استفاده کیږي:**
**الف: <u>د ارزاقو امارتي شرکت</u>**
پدې هوکړه لیک کې له <u>شرکت</u> څخه موخه د ارزاقو امارتي شرکت دي.

**ب: سلام شبکه**
پدې هوکړه لیک کې د آسانتیاء په موخه د سلام مخابراتي شبکې چې د افغان ټيلي کام تر چتر لاندې فعالیت کوي یواځې د سلام شبکه استفاده کوو.
**ج: پیرودونکي - مشتري**
له پیرودونکو څخه موخه د د ارزاقو امارتي شرکت کارکوونکي دي چې د سلام شبکې د سی یو جی له بستو به ګټه اخلي.
**د: CUG سي یو جی**
ګروپي سيمکارتونه یا سي یو جی ددې مخفف CUG Close User Group چې ځانګړې بستې ددې پیرودونکو ته جوړیږي

**دريمه ماده:**

**موخې او د هوکړه ليک موضوع ګاڼې:**

١. د سلام شبکه به د **ارزاقو اماراتي شرکت** کارکوونکو ته د 70 افغانيو په بدل کې 1000 د قيقې سلام شبکې ټولو شميرو ته فعالوي.
٢. د ارزاقو اماراتي شرکت ته لاندې د سی یو جی کڅوړې ورکول کيږي، ددې کڅوړو دقيقی او پيغامونه په داخل د ګروپ کې د استفادې وړ دي:

| قيمت | دقيقې | انټرنيټ | لنډ پيغامونه |
|---|---|---|---|
| **45** | 5000 | 0 | 500 |
| **70** | 10000 | 1GB | 1000 |
| **90** | 15000 | 1.5GB | 1500 |
| **140** | نامحدوده | 2GB | 2000 |

٣. د سلام شبکه به **د ارزاقو اماراتي شرکت**ته لاندې انټرنيټي کڅوړې وړاندې کوي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| **1** | **30 GB مياشتنی انټرنيټي کڅوړې لګښت** | **1** | **700 افغانۍ** |
| 2 | 20 GB مياشتنی انټرنيټي کڅوړې لګښت | **1** | **450 افغانۍ** |
| 3 | 15 GB مياشتنی انټرنيټي کڅوړې لګښت | **1** | **350 افغانۍ** |
| 4 | 10 GB مياشتنی انټرنيټي کڅوړې لګښت | **1** | **270 افغانۍ** |
| 5 | 5 GB مياشتنی انټرنيټي کڅوړې لګښت | **1** | **200 افغانۍ** |
| 6 | 3 GB مياشتنی انټرنيټي کڅوړې لګښت | **1** | **150 افغانۍ** |

۴. د سلام شبکه به د ارزاقو اماراتي شرکت ته د همدې هوکړه ليک په اساس 300 ګروپي يا سي يو جی سيمکارتونه توزيع کوي.
۵. د سلام شبکه به د ارزاقو اماراتي شرکت کارمند او معريفي شوي کس ته  تر (2) سيمکارتونو پوري توزيع کوي.
۶. د CUG تخفيف لرونکو سيمکارتونو ليست ته د ارزاقو اماراتي شرکت کارکوونکو د پخوانيو شميرو يا سيمکارتونو ور اضافه کوي.
٧. د سلام مخابراتي شبکې لخوا به د ارزاقو اماراتي شرکت برحال کارمندانو ته سی یو جی سيمکارتونه توزيع کيږي.
٨. د ارزاقو اماراتي شرکت کارکوونکو ته هر سي یو جي سيمکارت په <u>50</u> افغانۍ توزيع کيږي.
٩. د سلام مخابراتي شبکه به هره مياشت د ارزاقو اماراتي شرکت ته د هغوی د اړتيا مطابق سيمکارتونه توزيع کوي(د ضرورت په وخت کې).

**څلورمه ماده:**

**د سيمکارتونو د توزيع شرايط:**

١. ددې کڅوړې مطابق سي یو جي سيمکارتونه يوازې **د ارزاقو اماراتي شرکت** کارکوونکو او يا هم هغه اشخاصو ته چې د **ارزاقو اماراتي شرکت** لخوا معرفي شي ورته توزيع کيږي.
٢. ګروپي سيمکارتونه د **ارزاقو اماراتي شرکت** د مرکز او ولايتونو ادارو ته د سلام شرکت د استازو له خوا د شرکت په څانګو او مرکزي دفتر کې توزيع کيږي.
٣. هر سيمکارت ثبت او راجستريشن به د **ارزاقو اماراتي شرکت** د کارکوونکو په نوم تر سره کيږي.
٤. د ګروپي سيمکارت مثنی يا سوپ د نارمل سيمکارت په شان دی چې يعنی کارکوونکې يا پيرودونکي به د سلام شبکې نماينده ګی ته تشريف راوړي او د پاليسی په پام کې نيولو سره به هر سوپ يا مثنی فی سيمکارت ورته په 50 افغانۍ اجراء کيږي.

**پنځمه ماده:**

**حقوق او مسئولیتونه :**

**الف: د سلام مخابراتي شبکه**

١. د سلام شبکه به د **ارزاقو امارتي شرکت** د هر کارکوونکي هویت( پیژندنه ) پټ ساتي او په هیڅ صورت یي د کوم شخص او یا اداري سره نشي شریکولای، البته یواځې په استثنايي حالاتو کې به اجراآت تر سره کیږي.
٢. د سلام شبکه به د **ارزاقو امارتي شرکت ته** پورته ذکر شوي کځوړې د سي یو جي د ټولو ګټو په پام کې نیولو سره توزیع کوي.
٣. د سلام شبکه مسئولیت لري چې په خپل وخت سره به سی یو جی کځوړې **د ارزاقو امارتي شرکت** ته آماده کوي.
٤. که چیري **د ارزاقو امارتي شرکت** د زیاتو سیمکارتونو غوښتنه وکړي د سلام شبکه به نورسیمکارتونه هم برابروي.
٥. په میاشت کې څو ځلي د بنډلونو فعالولو د امکاناتو برابرول.
٦. د هر سیمکارت ثبت او راجستریشن به د اترا اداري د طرزالعمل د دریمې مادې مطابق تر سره کیږي.

**ب: د ارزاقو امارتي شرکت:**

١. **د ارزاقو امارتي شرکت** د سلام شبکې کارمندانو لپاره د سی یو جی سیمکارتونو د توزیع لپاره مصئون ځای برابروي.
٢. که چیري د **ارزاقو امارتي شرکت** کوم کارمند دنده پریږدی، منفک او یا هم تبدیل شي **ارزاقو امارتي شرکت د** اړتیا په نظر کې نیولو سره کولای شي خپل بل کارمند ته د همدې سیمکارت د پروفایل د تغیر لپاره په رسمی توګه معرفي کړي او د سلام شبکه به ورته اجراآت تر سره کوي.
٣. **د ارزاقو امارتي شرکت**به د سلام شبکې لپاره خپل مسئول کس معرفي کوي تر څو چارې په ښه ډول تر سره شي.

**ج: پیرودونکي او خدمتونه:**

١. دسلام شبکې کارمندان نشي کولاي چې **د ارزاقو امارتي شرکت**اړوند سیمکارتونه په ازاد بازار کښې وپلوري اما که چیري کوم پیریدونکي وغواړي چې **د ارزاقو امارتي شرکت**اړوند کوم سیمکارت ملکیت تغیر کړي د سلام شبکه اصولي کړني ترسره کولای شي.
٢. که چیري د توزیع په جریان کښې **د ارزاقو امارتي شرکت**کوم کارمند دسیمکارت سره کریډیټ کارت واخلي دهمدې کریډیت کارت د بیا ځلي رد یا مسترد کولو حق نه لري.
٣. که چیري **د ارزاقو امارتي شرکت**اړوند کوم کارمند د ځانګړو شمیروغوښتنه وکړي دسلام شبکې لخوا به ورته د یادو ځانګړې شمیرو په ټاکل شوي قیمت ورته وړاندي کیږي.
٤. له سیمکارت څخه ناوړه استفاده چې د هیواد امنیت، اسلامي ارزښتونو، ملي ګټواو نوم ته زیان رسوي پیرودونکي پوري اړه لري اوراتلونکې مسئولیت به ورته راجع کیږي.

**شپږمه ماده:**

**ناځاپه او الهي پیښې:**

د ناځاپه او الهي پیښو لکه (اور لګیدنه، سیلابونه، ځمک لړزه، باد او نورو الهي پیښو) په رامنځ ته کیدو سره چې د یاد هوکړه لیک پر پلي کولو کې منفي اغیز ولري هیڅ یو د طرفینو پري ملامت نه دئ.

**اوومه ماده:**

**د دریم شخص حقوق:**

١. هغه څوک چې پدې قرارداد یا هوکړه لیک کې یې یادونه نه ده شوي هوکړه لیک څخه یې برخې دي.
٢. دا هوکړه لیک پر دواړو طرفونو د دریم یا هغه شخص چې دلته یې یادونه نه ده شوي هیڅ حق نشته.

**اتمه ماده:**

**اصلاح یا تغیر – تعدیل**

که چیرې یو د طرفینو د همدې هوکړه لیک په ځینو موادو کې د اصلاح، تغیر، تعدیل او لغوې غوښتنه ولري لومړی باید خپله غوښتنه په رسمي ډول ځانګړې شوې برخې ته د اجراآتو لپاره ولیږي ترڅو د طرفینو له توافق څخه وروسته به غوښتل شوي مواد پلې کیږي، غیر له هغو یاد مواد د تطبیق وړ دي.

**نهمه ماده:**

**خبرتیاوې:**
د هرې غوښتنې یا ستونزې د حل لپاره باید په رسمي ډول معلومات او خبرتیاوې یو بل ته ورکړل شي البته رسمي لیکونه او ایمیل آدرسونه د همدې توافق د ستونزو د حل لپاره مشخص شي.

د دواړو طرفونو رسمي ادرسونه په لاندې ډول دي:

الف: د سلام شبکه – افغان ټیلي کام
**د پست پارسل ودانۍ څلورم پوړ، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت محمد جان خان واټ کابل افغانستان**
zabihullah@afghantelecom.af

ب: ارزاقو امارتي شرکت
**د ارزاقو امارتي شرکت**
**پته: د مرکزي سیلو څنګ ته – دریمه ناحیه کابل، افغانستان**
**تیلفون:** ۰۲۰ - ۲۵۰۰۰۴۱
**ایمیل:** info@arzaq.gov.af

**لسمه ماده:**

**د هوکړه لیک د له منځه وړلو حالات :**

**الف: مخکې له وخت څخه د هوکړه لیک فسخ کیدل:**
که چیرې یو د طرفونو څخه دهمدې هوکړه لیک له ذکر شویو موادو څخه سرغړونه وکړه لومړی طرف به ورته په رسمي ډول خبر ورکوي که چیرې یې د لسو کاري ورځو په درشل کې اجراآت ونه کړل دا هوکړه لیک فسخ کیدلئ شي.

**یوولسمه ماده:**
**د هوکړه لیک د فسخ کیدو نښې:**
د سلام شبکه په هیڅ صورت په خپل سر یاد سیمکارتونه نه غیر فعال کوي البته دهمدې هوکړه لیک د وخت په پوره کیدو سره به یواځې سیمکارتونه د سي یو جي له کځورو څخه ووځي او عادي شمیرو ته تبدیل کړل شي او کارکوونکې د عادي پیرودونکو په شان ترې ګټه اخیستلای شي.

**دولسمه ماده**

**د اختلافاتو را ښکاره کیدل:**
د هر ډول اختلافاتو د را څرګندیدو په صورت کې دهمدې هوکړه لیک له دواړو اړخونو څخه د صلاحیت لرونکو استازو په واسطه د خبرو له لارې حل کیږي او که چیرې د خبرو له لارې حل نشوه د افغانستان د اسلامي امارت د قوانینو او اصولو په رڼا کې به اړونده برخې اقدام کوي.

**دیارلسمه ماده:**

**د اعتبار نېټه او بیا تمدید کېدل:**
**الف:** دا هوکړه لیک له لاسلیک وروسته د (۱ کال) لپاره د اعتبار وړ دئ.

ب: د قرارداد د وخت په پوره کیدو سره د طرفینو په موافقه نوموړي قرارداد د (۱ کال) لپاره د تمدید وړ دئ.

**څوارلسمه ماده:**
دا هوکړه لیک په څوارلسو مادو کې په پښتو ژبه په ۲ نقله کښي جوړ شوی چې د طرفینو له لاسلیک وروسته د پلې کیدو وړ دئ.

**د افغان ټیلي کام مخابراتي شرکت**

**نوم:** پوهنیار علي احمد « سامند »

**لاسلیک او مهر :**.................................

**د ارزاقو امارتي شرکت اجرائیوی رئیس**

**نوم: مولوی عبدالرازق رفیع**

**لاسلیک او مهر:**...........................